

# خلکو ته د غیر دولتي موسسو ور پېژندل

# معرفی موسسات غیردولتی به مردم

# اغېزمني غير دولتي موسسې،
# پياوړې ټولنې

# مؤسسات غير دولتی موثر،
# جوامع مرفه

# Effective NGOs,
# Stronger Communities

د کارونکو لپاره لارښود

# انځوریز کتابګوټی: خلکو ته د غیر دولتي موسسو ور پېژندل

## پېژندنه:

د دې کتابګوټي موخه خلکو ته د غیر دولتي موسسو ورپېژندل او هغوی ته د موسسو د کارونو په اړه معلومات ورکول دي. پهدې کتاب کې د غیر دولتي موسسو ټول اصول او فعالیتونه په ساده انځورونو او لنډو جملو کې تشریح شوي دي، موخه يې په کلي ډول، نه په مشخص ډول د غیر دولتي موسسو پېژندل دي.

مورږ له غیر دولتي موسسو څخه غواړو چې دا کتابګوټی په خپلو هغو فعالیتونو کې چې په ټولنه کې یې، د خلکو په منځ کې اجرا کوي، له یوه تشریح کوونکي (تسهیلوونکي) سره وکاروي. دا کتابګوټی له تاسو سره مرسته کوي، تر څو له خلکو سره بحث ته لاره پرانیزئ: ګډونوال باید په پوره ډول په کې ښکېل شي، له هغوی څخه وپوښتل شي چې د دې انځورونو په اړه څه فکر کوي؛ د هغوی پوښتنو ته باید ځوابونه ورکړل شي.

## د ملکیت حق:

دا کتابګوټی د افغانانو لپاره د بشري او پرمختیایي مرستو د همغږۍ اداري (اکبر) ملکیت دی او د اکبر د غړیو موسسو لپاره تیار شوی دی؛ اکبر ملي، خپلواکه او غیر دولتي موسسه ده چې د غړیو موسسو لپاره یې یو اغېزمن پلیټفارم رامنځته کړی دی، تر څو له هغوی سره مرسته وکړي چې په افغانستان کې بشري او پرمختیایي مرستې په ښه اغېزمن ډول وکاروي.

د دې کتابګوټي په اړه که کومه پوښتنه لرئ، مهرباني وکړئ د اکبر له مرکزي دفتر او یا ولایتي نمایندهګانو سره یې شریکې کړئ. (د اړیکو د معلوماتو لپاره وروستۍ برخه وګورئ)

## د کتابګوټي میتودولوژي:

د دې کتابګوټي په تیارولو کې له لاندې پړاوونو څخه تېر شوي یو:

1. د انجیوګانو د موندنو پر بنسټ: مورږ د نورو موسسو له ساحوي دفترونو، په ټولنه کې دننه کارکوونکو او سیمهییزو رسنیو سره اړیکې ونیوې، تر څو د انجیوګانو په اړه د خلکو نظرونه راټول کړو.
2. له غیر دولتي موسسو سره د پیغامونو له لارې مشورې: مورږ د اکبر غړیو موسسو نظریات راټول کړل، دوی مورږ ته د انجیوګانو د فعالیتونو ډېر اړین او بنسټیز اصلونه را په ګوته کړل، تر څو په دې کتابګوټي کې راوړل شي.
3. مشورتي ورکشاپونه: مورږ تر ۱۵ ډېرو غیر دولتي موسسو او انځورګر سره ګډه جلسه جوړه کړه، تر څو دا په ګوته کړو چې څنګه کولای شو دا اصول په ښه توګه، داسې چې پوره معنی ورسوي، په انځورونو کې ځای پر ځای کړو.
4. بیا ځارنه: د اکبر موسسې شپږ تنه کارکوونکو ته دنده ورکړل شوې وه، تر څو له ډیزاینر سره وخت په وخت وګوري او په انځورونو کې اړین بدلونونه راولي.
5. ازموینه: ۷ غیر دولتي موسسو په لېرې پرتو سیمو کې، د خلکو په منځ کې دا کتابګوټی له خپلو ګټهاخیستونکو سره شریک او د لسو جلسو په اوږدو کې یې له هغوی څخه د نظریات راټول کړل، دا نظریات له ډیزاینر سره شریک او د خلکو له مشورو سره سم بېرته بدلونونه په کې راوستل شول.
6. دا کتابګوټی د ټولنې تر څنګ په سیمهییزه او ملي سطحه غیر دولتي موسسو ته د اکبر په دفتر کې هم ور وپېژندل شو او د هغوی له مشورو سره سم بدلونونه په کې راوړل شول.

رهنما برای کاربران

# رسالهی تصویری - معرفی موسسات غیردولتی به مردم

## مقدمه

هدف از تهیهی این رساله، معرفی موسسات غیردولتی (انجو ها) برای مردم و درک بهتر از فعالیت های موسسات غیردولتی میباشد. در این رساله اصول و فعالیت های اساسی موسسات غیردولتی در تصاویر و متنهای ساده تشریح گردیده است که نه تنها موارد مشخص بلکه در کل همه فعالیت های موسسات غیردولتی را به نمایش میگذارد. این رساله برای تمامی افراد جامعه توزیع نمی گردد بلکه هدف این است تا موسسات غیردولتی توسط یک تشریح کننده (تسهیل کننده) موضوعات این رساله را برای مردم در جلسات آگهی عامه تشریح نموده تا زمینه ی گفتگو میان مردم و موسسات غیردولتی مساعد گردد.

## حق مالکیت

این رساله ملکیت اداره هماهنگی کمک های بشری و انکشافی برای افغانها (اکبر) بوده و برای استفاده اعضای اکبر تهیه گردیده است. اکبر یک موسسه غیردولتی داخلی و مستقل بوده که جهت ایجاد زمینه ی موثر برای اعضای خود تاسیس شده تا آن هابتوانند فعالیت های بشری و انکشافی خویش را بگونه ی موثر در افغانستان تطبیق نمایند.

در صورت که در جریان استفاده ازین رساله به مشکل یا پرسشی بر خوردید، میتوانید از کارمندان موسسه ی اکبر در زمینه تقاضای کمک نمایید، ایمیل آنها در زیر قابل دسترس است.

## روش استفاده از این رساله

این رساله بر اساس مراحل زیر تهیه و ترتیب گردیده است:

1. تحقیق در مورد شناخت موسسات غیردولتی، نشست های مشورتی با دفاتر ساحوی، کارمندان اجتماعی و رسانه های محلی جهت جمع آوری معلومات در مورد شناخت مردم از موسسات غیردولتی.
2. مشوره با موسسات غیردولتی در مورد پیام های این رساله : جمع آوری نظریات موسسات عضو اکبر در مورد اصول کلیدی که در این رساله گنجانیده شده اند.
3. ورکشاپ های مشورتی: برگزاری ورکشاپ های مشورتی با ۱۵ موسسه غیردولتی در مورد پیام ها و تصاویر مندرج در این رساله
4. پیگیری: تعقیب و پیگیری دوام دار فعالیت های مربوط به این رساله با تهیه کننده، توسط کارمندان مسلکی موسسه ی اکبر
5. آزمایش در ساحه: هفت موسسه غیردولتی این رساله را با مردم و مستفید شوندگان طی ۱۰ جلسه در ساحه مورد آزمایش قرار داده و نظریات و پیشنهادات آن ها جهت غنامندی بیشتر این رساله مورد استفاده قرار گرفت.
6. ارایه معلومات به سطح ملی و محلی برای موسسات غیردولتی در دفاتر ساحوی موسسه ی اکبر

## ددي کتاب‌ګوټي د کاروني لپاره سپارښتني:

دا کتاب بايد لـه خلکو سره د بحث لاره پرانيزي او هغـوی تـه پوهاوی ورکړي چې غير دولتي موسسـې څنګـه او چېرې فعاليتونـه کـوي؛ موخه يې د انجيوګانو او د ټولنې تـر منځ لا ښـه همکاري او ټولنې ته پوهاوی دی، د دې لپاره چې د غير دولتي موسسـو په اړه منفي ليد لېرې او د ټولنې په سطحه د غير دولتي موسسـو منلو ته لاره هواره شي، موږ تاسـو تـه د لاندې پړاوونـو وړانديـز کوو.

## موخه:

- د کتاب‌ګوټي اصلـي موخه او هـدف ټولنـه او هغـوی دي چې د انجيوګانو لـه فعاليتونـو برخه‌مـن کـړي. دا کتاب‌ګوټي د رسنيو او چاراوکـو لپاره نـه دی.
- ژبه يې ساده ده او ډېر ارزښت انځورونو ته په کې ورکړل شـوی دی، نـو څکه د هرې کچې سـواد لرونکـو خلکـو سره د کتنې وړ دی.
- دا کتنې پـه کوچنيـو ګروپونـو کـې تياروليـ شيْ. مـوږ تاسـو تـه وړانديـز کـوو چې د يـوه تشريح کوونکي (تسهيلوونکي) پر سر تـر ۱۰ تنو ډېر ګـډونوال نـه وي.

## تشريح کوونکي وټاکئ:

- لـه خپلو کارمندانو څخه يو تن د تشريح کوونکي پـه توګه وټاکئ، داسې څوک چې له ټولنې سره له مخکې د کتنو او ورکشاپونو تجربـه ولري او يا يـې کاري برخه همدا وي.
- هغه څوک چې دا ورکشاپونه مختـه وړي بايد په مشارکتي کتنـو او ورکشاپونو کې ښـه تجربـه ولري.
- مـوږ تاسـو تـه وړانديـز کـوو چې لـه مېرمنـو سره د ورکشاپونو جوړولـو پـه موخه ښـځينه تشريح کوونکـي وګمارئ.
- مـوږ لـه تشريح کوونکـو څخه غـواړو چې د دې کتاب‌ګوټي لارښـود پـه ښـه څېـر سره ولـولي او لـه خپلـو مديرانـو سره يې هم شريک کـړي. که کومـه پوښـتنه ولرئ، د اکبـر لـه استازو سره پـه ډاډه زړه اړيکـه ونيسئ.

## د ګډونوالو ونډه اړينه ده

- تـر دې چې تاسـو ګډونوالـو تـه هـر انځـور تشريح کـړئ، ښـه بـه دا وي چې ګـډونوال لا ډېر پـه کـې ښـکيل کـړئ؛ وار پـه وار لـه هغوی څخه پوښـتنې وکړئ چې «لـه دې انځور څخه ستاسـو اخيستنه څـه ده؟»
- هغوی ته شايد انځورونه ډول ډول معناوې ولري، خـو بايـد ځـان بـاوري کـړئ چې هغوی تـه هر انځـور پـه ښـه ډول تشريح شي او په انځـور کې راغلي کرکټرونه په ښـه توګـه ور وپېژنـدل شي.
- که تاسـو فکـر کوئ چې ځينې انځورونه ستاسـو د اداري لـه کاري برخـو سره نه دي برابر، کېدای شي لـه هغو څخه تېر شـئ.
- کـه تاسـو فکـر کـوئ چې دلتـه ستاسـو اصلـي موخـې او اړتياوې نه‌دي په ګوته شـوې، کېدای شي هغـه د خبرو لـه لارې لـه هغـوی سره حـل کـړئ او يـا يـې پـه اړه معلومـات ورکـړئ.
- پورته خو ټکي د لارښـوونې په توګه راوړل شوي دي، عملـي کـول يـې ښـه دي، خـو دا اړينـه نه ده چې حتمـاً بايـد په دې لاره ولاړ شـئ، تاسـو کولی شـئ د خپلـو ګټه‌اخيسـتونکو او اداري له اړتياوو سره سم يـې وکاروئ.

## پوښتنې او وړانديزونه:

خپل موقعيت ته په کتو، د پوښـتنو، وړانديزونـو او وضاحتونـو درلودلـو پـه صورت کـې زمـوږ لـه ولايتي مديرانـو او يـا کابل مرکـزي دفتر سره اړيکـه ونيسـئ:

د ننګرهار ولايتي مدير:

jalmanager@acbar.org

د مزار شريف ولايتي مدير:

mazarareamanager@acbar.org

د هرات ولايتي مدير:

heratmanager@acbar.org

د کندوز ولايتي مدير:

kunduzmanager@acbar.org

کابل، مرکزي دفتر:

policyofficer@acbar.org

hmanager@acbar.org

## روش استفاده از این رساله

این رساله به منظور ایجاد گفتگو میان مردم و موسسات غیردولتی و ارایه معلومات در مورد فعالیت های آن ها تهیه و ترتیب گردیده است. انگیزه ی اصلی طرح این رساله این است تا مردم در مورد موسسات غیردولتی آگهی کامل داشته و سوء تفاهماتی که مردم در مورد موسسات دارند از میان برداشته شود، تا باشد موسسات غیردولتی مورد حمایت مردم قرار گرفته و زمینه ی تطبیق موثر پروژه های موسسات ایجاد گردد. برای استفاده ازین رساله موارد زیر مد نظر گرفته شود:

## هدف:

- •مخاطب اصلی این رساله، مردم و مستفید شوندگان از فعالیت های موسسات غیر دولتی میباشند. استفاده از این رساله برای مقامات حکومتی و رسانه ای توصیه نمی گردد.
- زبان نوشتاری این رساله بسیار ساده بوده و اهمیت بیشتر به تصاویر داده شده است تا موضوع به وجه احسن برای کسانیکه از سطح سواد پایین تر برخوردار هستند قابل فهم باشد.
- جلسات را می توان در گروپ های کوچکی از اشتراک کنندگان انجام داد. توصیه می گردد تا تعداد مشترکین برای هر تشریح‌کننده بیش از ده تن نباشد.

## انتخاب تشریح کننده:

- • برای آماده سازی و پیشبرد جلسات باید یک کارمندی که شغل اش به موضوع ارتباط دارد انتخاب شود.
- کارمند مذکور باید بتواند به آسانی جلسه را برگزار نموده و تجربه ی استفاده از روش مشارکتی را نیز داشته باشد.
- توصیه می گردد‌تا کارکنان زن به منظور تدویر جلسه های آگهی دهی برای زنان انتخاب گردند.
- تشریح‌کننده باید کتاب راهنمای این رساله را خوانده و در صورت ضرورت محتوای این رساله را با مدیران خود مورد بحث قرار دهند. برای معلومات مزید و پاسخ به پرسش های به وجود آمده، از کارمندان موسسه اکبر کمک بخواهید.

## سهم گیری اشتراک کنندگان

- به جای اینکه هر تصویر بگونه ی جداگانه تشریح گردد، توصیه می گردد که تشریح‌کننده اشتراک کننده گان را در موضوع دخیل ساخته و از آنها بپرسد که «درباره این تصویر چه میدانند؟»
- تصاویر می تواند برداشت های متفاوتی را ارایه دهد: باید مطمین شد که هر تصویر به شکل کامل تشریح شده ، شخصیت ها و کرکترهای مختلف تصاویر شناسایی شده است.
- در صورتی که دستور کاری سازمان شما در یکی از تصاویر درج شده درین رساله انعکاس داده نشده باشد، سعی ورزید تا با بحث در مورد آن به مخاطبین تان معلومات ارایه نمایید.
- در صورتی که تصاویر درج شده درین رساله بخشی از فعالیت های سازمان شما را تحت پوشش قرار ندهد به سادگی میتوانید از آن صرف نظر کنید.
- نشانه های زیر صرف جهت رهنمایی بوده و لازم نیست که به طور جدی رعایت گردند اما می توانند مطابق به نیازهای موسسه شما و اشتراک کنندگان سازگار گردند.

## پرسش ها و پیشنهادات

برای سوالات، توضیحات و سفارشات لطف نموده با کارمندان موسسه ی اکبر به سطح ساحوی و مرکزی نظر به موقعیت خود به تماس شوید.

مدیر ولایتی ننگرهار:

jalmanager@acbar.org

مدیر ولایتی مزارشریف:

mazarareamanager@acbar.org

مدیر ولایتی هرات:

heratmanager@acbar.org

مدیر ولایتی کندز:

kunduzmanager@acbar.org

دفتر مرکزی، کابل:

policyofficer@acbar.org

hmanager@acbar.org



٣

# Community:


Non-Governmental Organizations (NGOs) work closely with people in the community. NGOs are independent and carry out their activities in coordination with the government, the donors, the UN, the media and civil society, NGOs can be international or national organizations.

# جامعه :

موسسات غیردولتی (انجوها)، از نزدیک با مردم نیازمند کار نموده و فعالیت های خویش را در هماهنگی با دولت، سازمان ملل متحد، تمویل کننده گان، رسانه ها و سایر نهاد های مدنی انجام می دهند. موسسات می توانند داخلی و یا هم خارجی باشند

# ټولنه :

غیر دولتي موسسې (انجیوګاني) له خلکو سره نږدې کار کوي، خپلواکې دي؛ فعالیتونه یې له دولت، ملګرو ملتونو، بسپنه‌ورکوونکو، رسنیو او نورو مدني بنسټونو سره په ګډه همکارۍ مخته ځي. غیر دولتي موسسې کېدای شي ملي او نړیوالي وي.




**دا انځور تاسو ته له نورو ادارو سره د غير دولتي موسسو ښکېلتيا درښيي**

تاسو دا انځور داسې ورته تشريح کولی شئ؛

لومړی له هغوی څخه وپوښتئ چې په‌دې انځور کې غير دولتي موسسې کومې دي؟» وروسته بيا د هرې ادارې او ښکېل اړخ د رول په اړه ورته ووایاست.

١. دولتي ادارې
٢. خصوصي سکټور
٣. غير دولتي موسسې (څوک چې له خلکو سره او د ټولنې په منځ کې کار کوي.)
٤. ملګري ملتونه
٥. بسپنه ورکوونکي
٦. رسنی.

**تشريح کوونکی** باید ګډون‌والو ته ور وښيي چې غير دولتي موسسې خپلواکې او له هر ډول سياسي ډلې څخه جلا دي او د ګټې هيڅ اجنډا او موخه نه لري.

**اين تصوير نشان دهنده ی هويت موسسات غيردولتی در ميان ديگر نهادهای ذيربط است.**

شما می توانيد اين تصوير را با پرسيدن اين سوال تشريح نماييد « در اين تصوير موسسه ی غير دولتی کدام است ؟» و سپس نقش هر يک از شرکای ذيربط را توضيح دهيد.

١. مقامات دولتی
٢. سکتور خصوصی
٣. موسسات غيردولتی (که با مردم کار ميکنند)
٤. سازمان ملل متحد
٥. تمويل کنندگان
٦. رسانه ها

تشريح کننده بايد تاکيد نمايد که موسسات غيردولتی مستقل بوده و هيچ برنامه سياسی يا انتفاعی ندارند.





## Humanity:


NGOs try to support the poorest and most vulnerable people in the community. We want to help those who are suffering and give them respect.

## بشریت:

موسسات غیردولتی متعهد اند تا به افرادی نیازمند و آسیب پذیر جامعه، با حفظ احترام به کرامت انسانی آنها، کمک نموده و نیاز های اساسی و بشری آن ها را برآورده سازد.

## بشریت:

غیردولتي موسسې هڅه کوي، تر څو د ټولنې تر ټولو ډېرو بېوزلو او اړو خلکو سره مرستې وکړي؛ د هغوی انساني کرامت ته په درناوي، مورږ د هغوی اساسي او بشري غوښتنې ور پوره کوو.




دا انځور ښيي چې غير دولتي موسسې په ډول ډول حالاتو کې او ډول ډول اړتياوو ته ځواب وايي.

تاسو له ګډونوالو څخه پوښتنه وکړئ: «د غير دولتي موسسو موخه څه ده؟ ولې دوی له دې خلکو سره ګوري؟»

دا څلور انځورونه ښيي:

١. هغه مېرمنه چې د کور چلوونکې او ساتونکې ده (په ډېر بد اقتصادي وضعيت کې). شايد دا يوه کونډه وي.
٢. يو کوچنی هلک دی چې خيرات غواړي (ښوونځي ته نه ځي.)
٣. بېرته راستنېدونکي، کډوال او کورني بې ځايه شوي وګړي (چې په زور بېرته افغانستان ته رالېږل کېږي، په داسې حال کې چې دوی هېڅ ځمکه او کور نه لري.)
٤. معيوب وګړی (بد اقتصادي وضعيت، روغتيايي ستونزې.)

اين تصوير نشان می دهد که موسسات غيردولتی به نيازهای های مختلف مردم پاسخ ميدهند.

شما می توانيد از اشتراک کنندگان بپرسيد: «هدف موسسات غير دولتی چيست؟ چرا ميخواهند به گروهای مختلف جامعه دسترسی داشته باشند؟»

**چهار تصوير نشان ميدهد:**

١. زن، که سرپرست يک خانواده است (وضعيت زندگی او بسيار ضعيف به نظر می رسد) او ممکن يک زن بيوه باشد.
٢. کودکی که در سرک گدايی ميکند (و مکتب نمی رود)
٣. برگشت کننده گان، پناهندگان، و بی جا شده گان داخلی ( که جبراً وادار به برگشت به افغانستان ميشوند درحاليکه زمين و خانه ندارند.)
٤. شخص دارای معلوليت (وضعيت بد اقتصادی، مشکلات صحی)





## Neutrality:

NGOs do not take sides in conflict and our work does not engage in political, racial, religious or ideological debates. We advocate to all parties so that the communities can access our services

## بیطرفی:

موسسات غیردولتی، با هیچ یک از جوانب درگیر در جنگ طرف واقع نگردیده و در هنگام ارایه ی کمک به مردم به مسایل، قومی، مذهبی، نژادی و سیاسی دامن نمی زنند. موسسات، برای اینکه مردم به کمک های بشردوستانه دسترسی داشته باشند، دادخواهی می نمایند.

## بې طرفي:

غیر دولتي موسسې په جګړو کې هېڅ یو اړخ نه نیسي؛ په هیڅ سیاسي، نژادي، مذهبي او فکري کړنو پورې ځان نه تړي. موږ له ټولو اړخونو حق‌غوښتنه کوو، تر څو اړ خلک زموږ چوپړتیاوو ته لاسرسی پیدا کړي.

## تشریح کوونکی باید:

- غیر دولتي موسسې هېڅ یو اړخ نه نیسي، نه له دولت سره دي(۲) او نه هم له وسله‌والو ګروپونو سره(۳).
- غیر دولتي موسسې له خلکو سره کار کوي(۱)، خلک او ټولنه، هغوی چې په هر ځای کې دي، که د دولت تر لاس لاندې سیمه کې دي او که د وسله‌والو تر لاس لاندې سیمه کې دي.
- غیر دولتي موسسې د خلکو لپاره منډې وهي، حق‌غوښتنه کوي، تر څو هغوی هوسا او ښو اسانتیاوو ته لاسرسی پیدا کړي.
- په‌دې انځور کې غیر دولتي موسسې د وسلې نه‌لرلو پالیسي لري، تر څو خپله بې‌طرفي وښیي.
- په روغتیایي برخو کې تاسو هغوی ته، په تېره د غیر دولتي موسسو د کړنو په اړه بې له‌دې چې کوم اړخ ونیسي، د هر چا درملنه کوي؛ معلومات ورکړئ.

دلته هڅه وکړئ چې د خپلې اداري له فعالیتونو سره سم د هغوی پوښتنو ته ځوابونه ووایاست. دا امکان لري چې ګډون‌وال ووایي چې غیر دولتي موسسې د حکومت لپاره کار کوي. تاسو کولای شئ بېرته لومړي انځور ته ولاړ شئ او هغوی ته ور وښیاست چې غیر دولتي موسسې خپلواکې دي، خو باید د دولت په قانوني چوکاټ کې فعالیتونه وکړي.




## تشریح کننده می تواند توضیح دهد که:

- موسسات غیر دولتی در کشور، از دولت (۲) و مخالفین مسلح جانبداری نمی‌کنند. (۳).
- موسسات غیر دولتی میکوشند تا با مردم محل در هر جایی که باشند کار کنند (۳) ، چه در ساحات تحت حاکمیت دولت و چه در ساحات تحت حاکمیت مخالفین.
- موسسات غیر دولتی برای تامین خدمات و دسترسی مردم نیازمند به کمک های بشردوستانه دادخواهی می نمایند.

موسسات غیر دولتی پالیسی بیطرفی را جداً رعایت نموده و از حمل و نقل اسلحه جدا خود داری می نمایند. به موسسات که در بخش‌های صحی کار می‌نمایند، باید توضیح داده شود که افراد مصاب به بیماری، بیطرف پنداشته شده و باید مورد تداوی قرار گیرند.

سعی کنید درین مرحله به سوالات و یا نظریات اشتراک کننده‌گان پاسخ دهید و مثال هایی از موسسه خود را ارائه نمایید. ممکن اشتراک کننده‌گان بگویند که موسسات غیر دولتی برای دولت کار میکنند. شما می توانید دوباره به تصویر ۱ مراجعه نموده و توضیح دهید که موسسات غیر دولتی مستقل اند هرچند تابع قوانین دولت می‌باشند.



## اړخ نه نیونه:

غیر دولتي موسسې له خلکو سره د هغوی د اړتیاوو پر بنسټ مرستې کوي. موږ د خلکو د اړتیاوو معلومولو په موخه ارزونې کوو، اړو خلکو ته، بې له دې چې د هغوی ملیت، نژاد، جنسیت، مذهبي او یا سیاسي عقیدې په نظر کې ونیسو، لومړیتوب ورکوو.

## عدم جانبداری:

کمک‌های موسسات غیردولتی برای مردم با در نظرداشت نیاز و ضرورت آنها ارایه می‌گردد، برای تشخیص نیاز و ضرورت مردم، موسسات یک ارزیابی ابتدایی را راه اندازی نموده و به کسانی که ضرورت عاجل به کمک دارند، اولویت داده می‌شود. در هنگام ارایه‌ی کمک هیچگونه ملحوظ سیاسی، نژادی، قومی و مذهبی دامن زده نمی شود.

## Impartiality:

NGOs offer assistance to people based on need. We conduct assessments to measure what the population needs and we give priority to the most urgent or vulnerable people, with no distinction of nationality, race, gender, religious belief, political opinions.

١٠




**تشریح کوونکی له ګډون‌والو څخه پوښتلی شي:**

- غیر دولتي موسسې څنګه دا معلوموي چې څوک د دوی مرستو ته اړتیا لري؟

١. په انځور کې ښودل شوي چې د غیر دولتې موسسې کارکوونکی د یوه کور ارزونه کوي.

٢. دلته ښودل شوي چې یو معیوب وګړی د اړتیاوو له مخې تر نورو ډېره مرسته تر لاسه کوي.

**تشریح کوونکی دا انځور داسي ور ته تشریح کولای شي:**

- غیر دولتي موسسې د خلکو د اړتیاوو معلوملو او د دې لپاره چې معلوم کړي چې څوک ډېر مرستو ته اړتیا لري، ارزوني کوي.
- تر ټولو ډېرو اړو او محتاجو وګړو ته لومړیتوب ورکول کېږي.
- غیر دولتي موسسې په‌دې برسېره د خپلو ځانګړو ماموریتونو له مخې هم ګټه اخیستونکي ټاکي: مثلاً معیوب وګړي، ځوانان، ډېر عمر لرونکي وګړي، هغوی‌چې‌له‌خپلوسیموکډه‌شوي...

**تشریح کوونکی** باید دا هم ور وښیي چې غیر دولتي موسسې، په هېڅ‌ډول توپیري چلند نه‌کوي او نه هم له کوم چا سره د جنسیت، قومیت او یا مذهب له مخې رفتار کوي.

**تشریح کننده می تواند بپرسد که**

-چگونه موسسات غیر دولتی کسانیکه کمک دریافت می کنند (مستفید شوندگان) را انتخاب می نمایند؟

١. این تصویر نشان می دهد که کارمند موسسه پیش از ارایه کمک پروسه ی تشخیص نیازمندی ها را به انجام می رساند.

٢. این تصویر نشان میدهد که شخص دارای معلولیت کمک بیشتر را به دلیل نیازمندی خاص که دارد دریافت می نماید.

**تشریح کننده می تواند توضیح دهد که:**

- موسسات غیر دولتی ارزیابی هایی را به راه می اندازند تا بدانند که چه چیزی نیاز است و چه کسی آن را بیشتر نیاز دارد.
- به نیازمندترین و آسیب پذیر ترین افراد و عاجل ترین موارد اولویت داده میشود.
- همچنان موسسات غیردولتی، مستفید شوندگان را مطابق به دستور کاری مشخص خود انتخاب می نمایند. به طور مثال افراد دارای معلولیت، جوانان، بزرگ سالان، و بی جا شده گان داخلی ...
- تشریح کننده باید روی این واقعیت تاکید نماید که موسسات غیر دولتی هیچ نوع تفاوت قومی، جنسیتی، یا مذهبی را در نظر نمیگیرند.





# Transparency:

NGOs refuse all sorts of corruption. We ensure that our decisions are taken in a transparent manner. The management of our finance, human resources and programs is subject to the control of our Board members, our donors, our government and the beneficiaries.

# شفافیت:

موسسات غیردولتی به عنوان نهاد های بشردوستانه، متعهد اند به منظور جلوگیری از فساد اداری، کلیه قوانین نافذهِ کشور را رعایت نموده و لوایح و مقررات داخلی خویش را در روشنایی این قوانین ایجاد نمایند. تصامیمی که در موسسات گرفته می شود کاملا شفاف بوده، و مدیریت منابع مالی، بشری و برنامه های موسسات تحت کنترول هیت اداری موسسه، تمویل کننده گان، حکومت و مستفید شونده گان می باشد.

# رونښتیا:

غیر دولتي موسسې هر ډول فساد ردوي؛ موږ ځان ډاډمنوو چې هره پرېکړه مو رڼه او له فساده پاکه ده؛ د مالي چارو مدیریت، د بشري سرچینو چارې زموږ د هیئت مدیره غړو، بسپنه‌ورکوونکو، حکومت او ګټه‌اخیستونکو تر نظر لاندې مخته وړل کېږي.



### تشریح کوونکی لـه ګډون‌والو څخه پوښتلی شي:

- تاسو په انځور کې څه وینئ؟
- د غیر دولتي موسسو غبرګون څه دی؟

تاسو باید هغوی ته تشریح کړئ چې د غیر دولتي موسسو مالي حسابونه د دولت او بسپنه‌ورکوونکو له‌خوا په پوره ځیر سره څارل کېږي او دوی په هر کال کې یو ځل تفتیش کېږي. دوی باید په ټولنه کې خپلو ګټه‌اخیستونکو ته هم د خپلو پروژو په اړه حساب ورکړي.


تاسو په‌دې برخه کې د خپلې اداري د فساد د مخنیوي پالیسي په اړه هم خبرې کولای شئ.

### تشریح کننده می‌تواند از اشتراک کنندگان بپرسد که:

- شما در تصویر چه می بینید؟
- عکس العمل موسسه غیر دولتی چیست؟

شما توضیح می دهید که مدیریت مالی به دقت از سوی دولت و تمویل کنندگان نظارت میگردد و سالانه موسسات غیر دولتی مورد بررسی مالی قرار میگیرند. همچنان آنها باید به افراد مستفید شونده جامعه درمورد پروژه های خود گزارش دهند.

همچنان می‌توانید به پالیسی‌های موسسه خود در مورد جلوگیری از فساد اشاره نمایید.






## غیر انتفاعي:


غیر دولتي موسسې له خپلو شتمنیو او پیسو د اړو خلکو په ګټه کار اخلي. هغه مالي مرستې چې غیر دولتي موسسې یې لاس ته راوړي، په خپلو فعالیتونو کې یې مصرفوي، لکه: د تدارکاتو لپاره، د ودانیزو چارو لپاره، چوپړتیاوو او معاشونو لپاره.)

## غیر انتفاعی:

موسسات غیردولتی کاملا غیر انتفاعی بوده و هیچ یک از کارمندان موسسه حق استفاده از منابع و امکانات موسسه را ندارند؛ همه عواید و منابع موسسات به منظور کمک به مردم آسیب دیده و نیازمند و تامین منابع مالی فعالیت های موسسات مانند: فراهم آوری تجهیزات، ساخت و ساز اماکن عام المنفعه و معاش کارمندان موسسه به مصرف می رسد.

## Non for profit:

NGOs use our revenues and assets for the benefit of the beneficiaries. The funds NGOs receive are only used to finance our activities (pay for supplies, constructions, services, salaries)






**تشریح کوونکی له ګډون والو څخه پوښتلی شي:**

- ستاسو په نظر دا پیسې، مرستې او بسپنه له کوم ځایه راځي؟
- ستاسو په اند دا پیسې، مرستې او بسپنه څنګه کارول کېږي؟

پیسې، مرستې او بسپنه د بسپنه ورکوونکو له خوا ورکول کېږي. دا کېدای شي د دولت له خوا هم وي او کېدای شي د موسسې له خپلو شتمنیو څخه وي.

١- د غیر دولتي موسسې او بسپنه ورکوونکي تر منځ قرار داد لاسلیک شو. غیر دولتي موسسه پیسې لاسته راوړي، تر څو پروژې عملي کړي او خپلو موخو ته ورسېږي.

پیسې د لاندې موخو لپاره کارول کېږي، مثلاً:

٢- ودانیز کارونه، اسانتیاوې او کرایې.
٣- توکي او وسایل
٤- د کارکوونکو معاشونه.

**تشریح کننده می تواند از اشتراک کنندگان بپرسد:**


- به نظر شما بودجه موسسات غیردولتی از کجا تامین میگردد؟
- به نظر شما این بودجه چگونه استفاده می شود؟

بودجه یا وجوه مالی موسسات غیر دولتی از سوی تمویل کننده‌گان تامین می گردد. این تمویل کننده‌گان، جامعه بین المللی یا تمویل کننده‌گان خصوصی بوده می توانند. بودجه همچنین می تواند از سوی دولت و یا از درآمد خود موسسه تامین گردد.

١- قرار داد بین تمویل کننده و موسسه غیردولتی به امضا میرسد. موسسه غیر دولتی برای انجام فعالیت‌ها و رسیدن به اهداف تعیین شده این بودجه را دریافت می‌نماید.

این پول در موارد ذیل استفاده میشود:

٢. بخش‌های ساختمانی، تسهیلات و کرایه؛
٣. تجهیزات؛
٤. معاش کارمندان.




# Inclusivity:

NGOs take decisions with the communities, consulting men and women during the creation of our projects

## شمول پذیری:

در هنگام ایجاد پروژه ها، موسسات غیر دولتی تصامیم خود را یکجا با جوامع و در مشوره با مردان و زنان اتخاذ می نمایند.

## هر اړخیز:

د پروژو تر پیل مخکې غیر دولتي موسسې د ټولنې له نارینه‌وو او ښځینه‌وو سره کښېني او له هغوی سره په ګډه پرېکړې کوي.

### تشریح کوونکی لـه ګډون‌والـو څخه پوښتلای شي:

- پـه‌دې انځور کې څه وینئ؟
- هغه وګړي چې پـه پرېکـړه کـې ښکېل دي، څـه کـوي؟

### تشریح کوونکی کـولای شي ګډون‌والـو تـه ووايـي:

- د یـوې غټـې پـروژې تـر عملـي کولـو مخکـې، غیـر دولتـي موسسـې لـه ټولنـې سره کښېني، تـر څـو د هغـوی اړتیـاوې معلومـې کـړي.
- دا کارونـه د شـوراګانو، لـه مشرانـو سره د خبرو او د ځوانانـو ټولنـو لـه لارې کېدای شي.
- دا هـم ډېره مهمـه ده چـې بایـد لـه ښـځو سره هـم مشـورې وشي، ځکـه دوی ځانتـه غوښـتنې لـري او د ټولنـې یـوه ډېره مهمه برخـه ده.
- پـروژې بـه د ټولنـې او د خلکـو لـه غوښـتنو سره سـمې ډیزایـن، خـو ځینـي نـور فکټورونـه بـه هـم پـه نظر کـې نیـول کېـږي، لکـه:
  - د غیر دولتي موسسې تجربې او ارزونه
  - بودیجه
  - امنیتي وضعیت
  - د دولـت، بسـپنه‌ورکوونکي او شریـک لومړیتوبونـه




### تشریح کننده می تواند بپرسد:

-شما در این تصویر چه می بینید؟

-چه کسانی در تصمیم گیری دخیل اند؟

### تشریح کننده می تواند توضیح دهد که:

- قبل از شروع یک پروژه طولانی مدت، موسسات غیر دولتی با مردم محل مشوره می کنند تا نیازمندی ها را شناسایی نمایند.
- این مشوره ها می تواند از طریق شورا های انکشافی محلی، و نشست با بزرگان، سایر شورا ها، جوانان، و غیره انجام یابد.
- برای موسسات غیر دولتی مهم است تا با زنان نیز مشوره نمایند زیرا آنها از بخش مهمی جامعه نمایندگی میکنند و نیازمندی هایی بخصوصی دارند.
- پروژه بر اساس نیاز و توصیه ی مردم محل طراحی می گردد و سایر عوامل نیز در نظر گرفته می شود؛ مانند:
  - o تجربه موسسه غیردولتی و نیاز های مشخص شده
  - o بودجه
  - o امنیت
  - o اولویت های دولت، تمویل کنندگان و نهاد های همکار.





## Participation:


NGOs conduct projects with the help of the communities. NGOs often play the role of facilitator or technical support. Sometimes, NGOs ask for the contribution of the community, so that the population feels that the project belongs to them.

## مشارکت:

فعالیت های موسسات غیردولتی در تشریک مساعی با مردم محل راه اندازی میگردد. در اکثر موارد موسسات فقط نقش تسهیل کننده را داشته و کمک‌های فنی و تخنیکی را برای حل مشکل مردم مهیا می‌سازند. پروژه‌ها ملکیت مردم نیازمند بوده، ازینرو حضور و نقش آنها در هر مرحله‌ی از پروژه حتمی پنداشته می‌شود.

## گډ کار:

غیر دولتي موسسي له ټولني سره په ګډه پروژې عملي کوي. دوی د اسانتیاوو برابروونکي او یا ملاتړکوونکي رول لوبوي. کله کله بیا موسسې له ټولنې د همکارۍ او مرستې غوښتنه کوي، تر څو خلک دا احساس کړي چې دا پروژې د دوی لپاره دي.




انځور ښيي، چې ټولنه(۱) له غیر دولتي موسسې(۲) سره د یوې پروژې د عملي کولو پر مهال مرسته کوي، (مثلاً: پول جوړول). د ټولنې مرسته کېدای شي، کاري قوه، وسایل او یا هم بودیجه وي.

د دې انځور موخه دا ده چې خلکو ته ور وښودل شي، چې ولې غیر دولتي موسسې د خپلو پروژو د عملي کولو او کار کولو پر مهال له خلکو څخه مرسته غواړي. (زراعت، ښوونه، مسکن او داسي نور ... .)

**تشریح کوونکی له ګډون‌والو پوښتلای شي:**

«ولې د یوې پروژې د عملي کولو او یا کار کولو پر مهال د ټولنې ګډون مهم دی؟»

- تر څو ټولنه د هغې پروژې واک په لاس کې واخلي او داسي یې جوړه کړي چې ګټه یې اوږدمهاله وي.

تصویر مردم محل را نشان میدهد (۱) که موسسه را (۲) در پروژه ساختن (یک پل) کمک می کنند. سهم مردم محل می تواند در تامین نیروی کار، تجهیزات و حتا منابع مالی موثر واقع گردد.

هدف این تصویر این است، که چرا موسسات غیردولتی در هنگام انجام پروژه‌ها (مانند پروژه های زراعتی، تعلیمی، و معیشتی) از مردم محل میخواهند تا در پروژه ها سهم بگیرند.

**تشریح کننده می تواند بپرسد:**

«چرا مهم است که مردم محل در پروژه سهم بگیرند؟»

- برای اینکه مردم محل مالک پروژه اند و باید مطمین باشند که منافع پروژه طولانی مدت میباشد.






## ځواب ویونکي:

غیر دولتي موسسې د ټولنې خلکو ته ځواب ویونکې دي او دې ته تیاري دي چې کارونه یې و ارزول شي. د دې تر څنګ موسسې په ډېر اخلاص د خلکو شکایتونه اوري او ځان مسوول بولي چې دې شکایتونو ته ځواب ووایي.

## پاسخگویی:

مردم محل به عنوان مالکین پروژه حق دارند تا از کیفیت و چگونگی فعالیت های موسسات نظارت نمایند. موسسات غیردولتی در برابر مردم و مستفید شونده گان پاسخگو بوده، شکایات مردم را جدی گرفته و در حل آن متعهد اند.

## Accountability:

NGOs are accountable to the communities and are committed to evaluate the results of their work. We also take the complaints of the community very seriously and have the responsibility to solve them.




**تشریح کوونکی لـه ګډونوالـو څخـه پوښـتلای شي:**

- پـه لومړي انځور کې څه وينئ؟ غير دولتي موسسه څه کوي؟
- پـه دويم انځور کې څه وينئ؟ غير دولتي موسسه بايد څه وکړي؟

۱-ټولنې او خلکو تـه د غير دولتي موسسو د کارونو پايله ور ښيي: د ښوونځي ودانۍ.

۲-دا انځور ښيي چې پـه دې برسېره چې د ښوونځي ودانيز کارونه پای تـه رسېدلي، د ټولنې يـو وګړی پـه ګوتـه کوي چې د ښوونځي ودانۍ د جوړښت پر مهال سمه نه‌ده جوړه شوې. تشريح کوونکی بايد خلکو تـه ووايي چې ټولنه دا حق لري چې د کارونو د خرابوالي لـه امله موسسې تـه شکايت وکړي او موسسه بيا هغو ستونزو تـه د حل لاره پيدا کوي.

۳-موسسه هم له شکايت سره سمه هغه ستونزه حلوي.

کـه څـه هـم، بايد ډېر پام وکړئ چې غوښتنې يې ډېرې نـه کړئ؛ د پروژې تر پای تـه رسېدو، د هرې ستونزې حل د موسسې مسووليت دی، خو کله چې پروژه لـه موسسې څخه لېرې او وسپارل شـوه، بيا نو دا د موسسې مسووليت نـه دی، بلکې خلک يې بايد ساتنه وکړي.

**تشریح کننده می تواند از اشتراک کنندگان بپرسد:**

- شما در تصویر اول چه را می بینید؟ موسسه غیر دولتی چه کاری را انجام میدهد؟
- شما در تصویر دوم چه را می بینید؟ موسسه غیر دولتی چه کاری را باید انجام دهد ؟

۱.این تصویر نشان می دهد که موسسه غیر دولتی نتایج کار خود را به مردم محل پیشکش میکند.(ساختمان یک مکتب)

۲.این تصویر نشان می دهد که مردم در نظارت از کیفیت و کارآیی پروژه نقش موثر دارند. آنها می توانند در صورت بروز مشکل و یا نواقص در پروژه ها، موضوع را با موسسه‌ی تطبیق کننده شریک سازند.

۳.این تصویر موسسه غیر دولتی را نشان میدهد که مشکلات و شکایات مردم را می شنود و برای حل آن اقدام مینماید. با این حال، مراقب باشید که توقعات مردم را افزایش ندهید: یکبار که پروژه ختم شد، این وظیفه موسسه غیر دولتی نیست که از پروژه مراقبت و نگهداری کند. هنگامی که پروژه به مردم محل تحویل داده شد این مسئولیت آنها میباشد.





# Diversity of actions:

NGOs are conducting various types of projects, according to the needs of the population. They can have immediate impact, in times of emergency, or have longer term impact, to improve the life of the community

# تنوع فعالیت ها:

فعالیت ها و پروژه های موسسات غیردولتی بر اساس نیاز مردم آسیب دیده و نیازمند تهیه و تنظیم می گردد، این خدمات، شامل کمکهای صحی، غذایی، مالداری، زراعتی و تعلیم و تربیه می گردد. تاثیرات این فعالیت ها می تواند در حالات اضطراری فوری و یا هم در جهت بهبود و انکشاف زندگی مردم، طولانی‌تر باشد.

# د فعالیتونو تنوع:

غیر دولتي موسسې د خلکو له غوښتنو او اړتیاوو سره سم، ګڼ شمېر پروژې عملي کوي؛ دا پروژې د اضطراري وضعیتونو په صورت کې سمدستي اغېز درلودلای شي او یا دا چې د ټولنې د خلکو په ژوند کې اوږدمهالی اغېز لري.




**تشریح کوونکی له ګډونوالو څخه پوښتلای شي:**

«غیر دولتي موسسې څه ډول فعالیتونه کوي؟»

**تشریح کوونکی لاندې مثالونه راوړلای شي:**

- ښوونځی / ښوونیز بهیر / ښوونه
- کلینیک / روغتون
- د اړتیا وړ توکو وېشنه
- د مسکن او ژوند فعالیتونه

**تشریح کوونکی** د خپلې ادارې د فعالیتونو په اړه هم ورته ویلای شي، هغوی ته وواياست چې غیر دولتي موسسې د خپلو فعالیتونو د لا اغېزمنتوب په موخه کومې لارې کاروي. (ایمرجنسي/ ژر اغېز لرونکې او یا اوږدمهالي ګټې) ځینې ګډون‌وال شاید د هغو پروژو په اړه چې معنوي ګټې لري، نه وي خبر، لکه تربیتي او د ظرفیت لوړونې پروګرامونه، د حق غوښتنې پروګرامونه؛ نو ځکه **تشریح کوونکی** باید د دې ډول پروژو د اوږدمهالو ګټو په اړه تولنې او ګټه اخیستونکو ته ووایي.

**تشریح‌کننده می تواند از اشتراک کنندگان بپرسد:**

«چه نوع پروژه ها را موسسه غیردولتی انجام داده میتواند؟»

**تشریح‌کننده می تواند مثال های ذیل را مطرح نماید:**

۱. مکتب / پروژه تعلیمی / برنامه های آموزشی
۲. کلینیک / شفاخانه
۳. توزیع وسایل اضطراری
٤. فعالیت های معیشتی

تشریح‌کننده نیز می تواند نوع پروژه ای که موسسه خود آنها انجام میدهد را تشریح نماید و همچنان نوع روش یا رویکرد که موسسه انتخاب می نماید. (اضطراری/تاثیر سریع یا رویکرد طولانی مدت).


ممکن برخی اشتراک کنندگان منفعت پروژه های «نرم» یا Soft (مانند پروژه های ارتقای ظرفیت و دادخواهی) را ندانند. بنابراین تسهیل کننده باید نفع این پروژه ها را در طولانی مدت برای مستفید شوندگان و جامعه توضیح دهد.




**ښځې:** ښځې د ټولنې د یوه لوی قشر په توګه د غیر دولتي موسسو د کارونو په سر کې دي، تر څو د هغوی اساسي غوښتني پوره کړي.

**زنان:** زنان به عنوان یک قشر بزرگ جامعه همیشه در محراق فعالیت های موسسات غیردولتی قرار دارند تا نیازمندی های اساسی آن ها تامین گردد.

**Women:**
NGOs are paying attention to the special needs of women.




تشریح کوونکی باید ګډون‌والو ته وواېي چې ښځې د غیر دولتي موسسو د پروګرامو په برخه کې ځانګړی ځای لري، ځکه؛

- ښځې د ټولنې ۵۰٪ جوړوي، نو باید هېرې نه‌شي.
- ښځې خپلې خاصې غوښتنې لري او کله کله ډېرې اړینې هم وي، د خطرونو ډېر بار هم دوی وړي.
- ښځې د کور په اقتصاد کې ډېر اغېزمن رول لوبولای شي.

**تشریح کوونکی** باید ګډون‌والو ته وواېي چې غیر دولتي موسسې د ښځو لپاره ځانګړي پروګرامونه لري، لکه:

۱ - تخصصي کلینیکونه او روغتیایي مرکزونه

۲ او ۴ انځورونه،- ځانګړې د ظرفیت لوړونې پروګرامونه دي، د دې لپاره چې د ښځو ځان‌بسیاینه تضمین شي. (دلته د مچیو ساتنه او وړی اوبدل)

۳ – د ښوونځي نجونې.

تشریح کوونکی باید دوی ته د خپلې اداري مثالونه هم ورکړي او دا هم ورته وواېي چې موږ په ښځو پورې تړلیو فعالیتونو په برخه کې ښځې ګمارو.

**تشریح کننده باید توضیح دهد که چرا موسسات غیر دولتی در برنامه های خود به زنان توجه خاص می نمایند:**

- • بخاطری که زنان ۵۰ درصد نفوس جامعه را تشکیل میدهند و نمی توان آنها را نادیده گرفت.
- بخاطریکه زنان دارای نیازمندی های ویژه بوده و گاهی اوقات بیشتر آسیب پذیر میباشند و همچنان در حالات بحرانی بار سنگینی را تحمل میکنند.
- بخاطری که زنان می توانند نقش کلیدی در انکشاف اقتصادی خانواده های خود ایفا کنند.

تشریح کننده می تواند تشریح نماید که موسسات غیر دولتی برنامه های خاص را برای زنان ایجاد نموده اند؛ از قبیل:

۱. کلینیک های تخصصی یا مراقبت های صحی

۲ و ٤: برنامه ظرفیت سازی تخصصی، تا زنان بتوانند برای خود درامد بدست آورند (که در اینجا پروژه های زنبورداری و خیاطی نشان داده شده است)

۳. مکتب برای دختران

همچنان تشریح کننده باید مثالهای از موسسه خود ارائه نماید و توضیح دهد که موسسات غیر دولتی تمایل دارند تا زنان را برای پروژه های که مربوط به زنان میباشند استخدام نمایند.





## Location:

NGOs work throughout Afghanistan, and strive to reach population in the most remote places. Some NGOs also help population in distress all around the world.

## موقعیت:

فعالیت های موسسات غیردولتی، افغانستان شمول بوده و در دورترین نقاط کشور به مردم نیازمند و آسیب دیده کمک می رسانند، فعالیت های بعضی از موسسات غیردولتی فراتر از یک کشور بوده و در سرتاسر جهان به مردم نیازمند خدمات ارایه مینمایند.

## د کار ساحه:

غیر دولتي موسسې د افغانستان په گوټ گوټ کې کار کوي او هڅه کوي تر څو د هېواد په هر کونج کې اړو خلکو ته ځانونه ورسوي. د دې تر څنګ د ستونزو په صورت کې ځینې موسسې د نړۍ په گوټ گوټ کې له خلکو سره مرستې کوی.



**تشریح کوونکی له ګډونوالو پوښتلای شي.**

**- غیر دولتي موسسې په کومو برخو کې کار کوي؟**

په انجیوګانو شاید دا نیوکه وشي چې یوازې په ښارونو کې فعالیتونه کوي، تاسو هم شاید له دې ډول تجربو سره مخ شئ.

**تاسو ګډونوالو ته تشریح کولای شئ:**

- د غیر دولتي موسسو هڅه دا ده چې په لېرې پرتو سیمو، کلیو او هر ګوټ کې خلکو ته ځان ورسوي.
- انجیوګاني د خلکو او ټولنې ملاتړ ته اړتیا لري، تر څو لېرې پرتو سیمو ته ځانونه ورسوي.



**تشریح کننده می تواند بپرسد**

**- موسسات غیر دولتی در کجا کار میکنند؟**

موسسات غیر دولتی ممکن مورد انتقاد قرار گیرند که آنها تنها در شهر ها کار میکنند و ممکن تشریح کننده چنین انتقاد هایی را دریافت نماید.

**تشریح کننده می تواند تشریح نماید که**

- موسسات غیر دولتی می‌کوشند تا به تمام مردم در روستا ها و شهر ها رسیدگی نمایند.
- موسسات غیر دولتی ممکن به حمایت مردم محل نیاز داشته باشند تا به جا های دوردست رسیدگی نمایند.






## حق غوښتنه :

غیر دولتي موسسې د خلکو له حقونو څخه د دفاع په برخه کې پیاوړی رول لري. موږ له ټولو اړخونو سره خبرې کوو او ځان په دې ډاډمنوو چې خلک کولای شي، د موسسو له کارونو او مرستو برخه‌من شي؛ د دې تر څنګ موږ د ټولنې ملاتړ ته اړتیا لرو، تر څو د هغو لپاره چې مرسته ورسره کوو، امن محیط رامنځته شي.

## دادخواهی :

موسسات غیر دولتی حامی قوی مردم در یک جامعه اند، تا از حقوق آن‌ها دفاع نمایند. برای اینکه مردم به کمک های بشردوستانه دسترسی داشته باشند، موسسات با تمام جوانب درگیر، صحبت و گفتگو می نمایند. برای ایجاد یک محیط امن، موسسات به کمک و حمایت مردم نیز ضرورت دارند.

## Advocacy:

NGOs are strong advocate for the communities, to defend the right of the people. We discuss with all parties to ensure that population can use our services. We also need the support of the communities to ensure a safe environment for the people we attend to




دا انځور د غیر دولتي موسسو د حق‌غوښتنې بهیر تشریح کوي، تر څو د دوی د کار ځایونه خوندي کړي. (دلته روغتون دی)

- غیردولتي موسسه د دولت او وسله‌والو طالبانو تر منځ په جنګ کې راغلې ده. روغتون بندېږي او هیڅوک به روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی و نه‌لري.
- غیر دولتي موسسې له ټولنې سره په‌دې اړه خبرې کوي، تر څو ډاډ تر لاسه کړي چې هر اړخ باید د دې ځایونو بې‌طرفي ته پوره درناوی ولري. روغتون باید امن او له جنګ جګړو لېرې ځای وي.
- غیر دولتي موسسې له چارواکو سره د روغتون په اړه خبرې کوي، له هغوی څخه غواړي چې روغتون باید امن او له جګړو لېرې ځای وي.
- د حق‌غوښتنې په بهیر کې ټولنې د غیردولتي موسسو له هڅو او ملاتړه مننه کوي، روغتون له جګړو پاک شو. هلته د (وسلې نه شتون) نښه هم لګول شوې، تر څو د هر ډول وسله‌لرونکو ګروپونو له ننوتو مخنیوی وکړي.

تشریح‌کوونکی باید ګډون‌والو ته ووایي چې غیر دولتي موسسې له ډېرو ستونزو سره مخ کېږي، تر څو ډاډمن شي چې د هغوی د کار ځای د هغوی د کارکوونکو او ګټه‌اخیستونکو لپاره خوندي دی. تشریح‌کوونکی باید دا هم ورته ووایي چې ټولنه د هغې سیمې خلک (۱) له موسسو څخه د ساتنې (۲) او دا چې د موسسو مرستې، اړو خلکو ته رسېږي، ډېر مهم رول لري.

در این تصویر تلاش های دادخواهانه ی یک موسسه بخاطر حفاظت محل کار آنها را نشان میدهد (در اینجا یک شفاخانه نشان داده شده است)

۱. موسسه در جنگ بین دولت و مخالفان قرار گرفته است؛ شفاخانه باید بسته شود، که در این صورت هیچ کس نمی‌تواند به مراقبت‌های صحی دسترسی داشته باشد.

۲. موسسه غیردولتی در مورد این مشکل با مردم محل گفتگو نموده و توصیه می‌نماید که شفاخانه برای مردم نیازمند خدمات ارایه نموده و با هیچکسی طرف واقع نیست و طرف‌های درگیر نیز باید به بیطرفی ما احترام قایل باشند.

۳. موسسه غیردولتی عین مشکل را با مقامات حکومتی درمیان گذاشته و توضیح میدهد که شفاخانه یک نهاد خیریه است و با هیچ یک از طرف های درگیر در ارتباط نیست و باید اصل بیطرفی آنها احترام شود.

٤. تشکر از حمایت جامعه و تلاش های دادخواهانه ی آنها، شفاخانه اکنون از گزند جنگ مصوون است. علامه ی منع سلاح در مقابل دروازه ی شفاخانه نصب شده و هیچ کسی حق داخل شدن به شفاخانه با سلاح را ندارد.

تشریح‌کننده می تواند توضیح دهد که موسسات غیر دولتی با چالش های زیادی رو به رو می شوند تا اینکه اطمینان حاصل گردد که محل کار آنها برای کارمندان و مستفید شوندگان مصوون میباشد. تشریح‌کننده نیز باید توضیح دهد که جامعه و مردم محل نقش بزرگی در قسمت ۱) حفاظت از موسسه ۲) و اطمینان از اینکه خدمات موسسه به افراد نیازمند برسد؛ دارد.

ACBAR

@ACBAR_AFG

http://www.acbar.org